

Baghlan University Academic
Research Journal
https://baghlan.edu.af/ Vol. 12, Issue. 1, Serial No. 34 (2024) 103-112

# Psyche and Interpretive Angles of Artistic and Literary

**Gul Rahman Rahmani**

Department of Pashto Language and literature, Literature Faculty, Baghlan University, Afghanistan.

**Corresponding Author**: Gul Rahman Rahmani, **E-mail**: G.rahman_rahmani@yahoo.com

**Article Info**

**Article Type:**
Review Article

**Article History:**

**Received:** 4, July, 2024

**Revised**: 15, July, 2024

**Accepted:** 17, july, 2024

**Published:** 23, July, 2024

**ABSTRACT**

The reader of a literary and artistic Creation should be facilitated to get the desired meaning and understanding of her/his reading choice. Although, considering the nature of the language, implicit messages and the sub- and main purposes of artist, the analysis and interpretation of literary and artistic works are not easy tasks, however, its different angles of interpretation can bring us to its near and desired goal. In a literary analysis and interpretation, Psychology, philosophy and literature help the explorers of artistic and literary works, on the one hand, in exploring the content and purposes of the artistic work and on the other hand, it creates the power to discover and study the psychological state of the painter and the artist, in order to overcome the ambiguities and reach the main goal through the relationship between the literary work and the artist. Exploring the main and secondary meanings and purposes requires a journey to the subconscious world of an artist, and it passes through the hardships of the art of interpretation and delivery of text. Other than this, the purpose and message of the artistic and literary work is hidden like ruby/Lal under the ashes and remain missing.

**Keywords:** Psyche, artistic work, art, hermeneutics, interpretation, perspective, analysis, Creation

To cite this article: Rahmani, G.R.: 2024. Psyche and interpretive angles of artistic and literary. Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 12, Issue. 1, Serial No. 34 - Spring – Summer (2024), 103-112.
License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.
Publisher: University of Baghlan




د بغلان پوهنتون علمي او څېړنیزه مجله

مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان

https://baghlan.edu.af/ *Vol 12. Issue. 1, Serial No. 34 (2024) 103-112*


# د هنري پنځونو د روان او تفسیر زاویې


## پوهندوی گل رحمن رحماني

### د بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، د پښتو ژبې او ادب څانگه


| اطلاعات مقاله | لنډیز |
|---|---|
| **نوع مقاله:** مقاله مروری<br>**تاریخ دریافت:** ۱۴۰۳/۰۴/۱۴ هـش<br>**تاریخ بازنگری:** ۱۴۰۳/۰۴/۲۵ هـش<br>**تاریخ پذیرش:** ۱۴۰۳/۰۴/۲۷ هـش<br>**تاریخ انتشار:** ۱۴۰۳/۰۵/۲ هـش | د ادبي اثر له لوستونکي سره باید مرسته وشي چې د خپلې خوښې اثر مطلوبه معنی او مفهوم تر لاسه کړي. د ادبي او هنري اثارو تحلیل او تفسیر د ژبې نوعیت، نغښتو پیغامونو او د پنځگر فرعي او اصلي موخو ته په پام سره اسانه کار نه دی؛ خو د تفسیر بېلابېلې زاویې یې موږ د هغه نږدې او مطلوبې موخې ته رسولی شي، روان پوهنه، فلسفه او ادبیات په یوه ادبي تحلیل او تفسیر کې له یوې خوا د اثر د منځپانگې او موخو په را سپړلو کې د هنري او ادبي اثارو له سپړونکو سره مرسته کوي، له بلې خوا د پنځگر او هنرمن د رواني حالت د کشف او مطالعې ځواک رامنځته کوي؛ څو د اثر او پنځگر تر منځ د اړیکې له لارې پر ابهاماتو بر لاسی وومي او اصلي موخې ته ورسېږي. د اصلي او ضمني معناگانو او موخو را سپړل د پنځگر د لاشعور دنیا ته سفر غواړي او دا سفر د متن د تفسیر فن او تاویل له کړلېچونو تېرېږي، له دې پرته د هنري او ادبي اثر موخه او پیغام تر ابړو لاندې لال په خبر پټ او ورک پاتې وي. |


**کلیدي کلمې:** روان، هنري پنځونه، هنر، هېرمونوتېزم، تفسیر، لیدلوری، تحلیل

استناد: رحماني، گل رحمن. (۱۴۰۳)، د هنري پنځونو د روان او تفسیر زاویې، مجله علمی-تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۱، بهار و تابستان(۱۴۰۳)، شماره مسلسل ۳۴، دور۱۲. (۱۰۳-۱۱۲) .

ناشر: پوهنتون بغلان.

**سريزه**

ادبيات او ارواپوهنه دواړه د خپلو احساساتو، قضاوتونو، هيجاناتو په توګه يو له بل سره مرسته کوي چې د ژوند موجوده مانا کشف کړي. ادبيات په روښانه ډول کولی شي چې انسان ته پوهاوی ورکړي او د هويت په باب د هغه شعور او پوهاوی لوړ کړي، انسان او د هغه وجودي حالت هر وخت يو داسې حقيقت و او دی چې په زياترو علمي څېړنو، ښکلو هنرونو او ادبياتو کې ځليدلی دی.

شاعر او ليکوال په کوم حالت کې ښه او شاهکاره پنځونه کولی شي؟ ديونګ له نظره لومړی د شاعر ازادانه او ګډور روح پنځېږي او برى تر لاسه کوي، د شاعر روح داسې ژورو ته ور ښکته کېږي، چې د هغه د يوازيتوب په خبرتيا برلاسی مومي، که وړاندې پر ټولو جزئياتو او مکنوناتو نه و برلاسی، په دې وضعيت کې هغه پوهاوي ته رسېږي، چې ټول بشريت په کې يو ډول ونډه لري او طبعا چې د يونګ اشاره په دې برخه کې «قومي تحت الشعور» ته ده او دا موضوع د هغه په متن کې خپل بشري مشترکات لري، د بېلګې په ډول وايي چې ګياه او واښه نه يوازې د خاورې محصول دي، بلکې ژوندي، کوټلي او پنځګر موجودات هم دي، ماهيت يې د خاورو له ماهيت سره کوم تړاو نه لري، همداسې هنري اثر هم د يوې داسې هستونې په توګه چې په ازاده توګه له ټولو مقدماتي شرايطو نه کار اخلي، پوهېدنه او ځانګړې تګ لاره يې د بهرنيو لاملونو پر ځای خپله پر هغه تکيه کوي. د باندنيو ابتدايي شرايطو پر مټ دا ويلی شو، چې هنري اثر داسې ښکارنده (پديده) ده چې په اسانی سره د خاور په څېر تغذيه کوونکي لري، د انسان له شخصي استعداد نه ګټه اخلي او له هغو ځواکونو څخه چې د ځانګړو قوانينو په لړ کې رامنځ ته کېږي، په خپله خوښه ځان ته ښه او څېره خپلوي. هغه هنري اثر چې لا هم نه دی پنځېدلی؛ خو د هنرمن د روان په ځمکه کې يې زړی زرغون شوی او يو ځای نيسي، ايجاد يا پنځېدل يې داسې طبيعي قدرت او چاره ده، چې د ظالمانه ځواکونو او رنګينو دوکو او تېر وېستنې له لارې خپلې طبيعي موخې پالي، لاسوهنه کوي، د انساني ګټو او شخصي زيانونو انديښنه ورسره مله وي او اوس د هستونې ځواک منځته راوړي، کټ مټ له خاورو څخه د را زغونو شوو بوټو او ونو په څېر وده مومي.

**د څېړنې مېتود**: په دې مقاله کې له کتابتوني – تشريحي ميتود څخه ګټه اخيستل شوې ده.

**هنري پنځونه**

د هنرمن د روحياتو په باب ځانګړی تصور دا دی چې هنري هستونې په اغراقي ډول د شاعرانه تخيلاتو پر بنسټ رامنځته کېږي؛ خو يوازې دومره ويلي شو چې د هنرمن او د عادي انسان تر منځ

توپیر دا دی چې هنرمن زیات عصبي حساسیتونه لري او بیا هغه څوک چې هنرمن شي، هماغه مخکنی حساسیت یې کافي نه وي؛ بلکې دوه نور شرطونه هم ورته لازمي دي، لومړی؛ کله چې دا حساس انسان له هنري دنیا سره اړیکه پیداکړي او هنر ته یې پام شي او دویم؛ کله چې فنون او هنري اثار زده کړي. د هنرمن د احوال توپیر پر یادو دواړو عاملونو پورې اړه لري، یعني هر څومره چې د هنرمن حساسیت شدید او د پوهې خزانه قوي وي؛ په هماغه اندازه ډېرې عالي هنري لاسته راوړنې لرلی شي، د هنرمن د زده کړو او تجربو زېرمه ډېر زیات رول لري. د هنر په تېوری کې ددې تر څنګ د هنر او ښتینولۍ موضوع هم مطرح کېږي او د ښتینولۍ ریښه بیا هم د انسان له فطرت او روان سره تړلې ده، دا موضوع په ځانګړي ډول هغو ټولنو کې چې اخلاقي اصولو او حاکمو ارزښتونو ته ډېره ژمنتیا لري، په لوړه کچه په پام کې نیول کېږي؛ ځکه چې پر اثر اخلاقي باور د پنځګر او تخلیق د مطرح کېدو یوه لاره وي. پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون د کاظم خان شیدا هنر په اړه په خپل اثر «د تخیل سمندر» کې ددغه نازکخیال ادیب د ښتینولۍ په اړه لیکل دي: «شیدا د هنر او شعر په ژبه دنیا ته د یو صادق شاعر انسان په توګه خپله مفکوره په شاعرانه ژبه وړاندې کړه. ده په ټولنه کې د یو شاعر او لوړ ادیب په توګه خپل دریغ وساته، د وطندوستۍ، مینې محبت او د ګران وطن د سرلوړۍ او ښېرازۍ لپاره یې په انځوریزه او ښتینې ژبه خلکو ته ژوند وښود، ښتینولي دده د شعر هغه خوږلني ده چې له زړه راوتې ده، څه یې چې په زړه کې وو، هغه یې بیان کړه، خپلې تجربې او ژوند یې خلکو ته د یوه ښتیني شاعر انسان په توګه بېلګه کړ.» (ازمون، ۱۴۰۲: ۱۷۷).

د شیدا په اړه دا هم ویل کېږي چې د هنر او ادبي ژوند لپاره یې د خانۍ او سردارۍ ژوند ته شا کړه او همدې پرېکون هغه ته د هنر او ادب لویه خزانه ډالۍ کړه، پوهاند ازمون په دې اړه په یاد شوي اثر کې زیاتوي: « شاعرۍ ورته اواره ژوند ډالۍ کړه، دی همدغه معنوي ارزښت او ښکلې دنیا ته له مادي دنیا تېر شو، خپل شته یې د عدالت او ښتیني ژوند لپاره داو کړه، له خان خانۍ نه ملنګۍ ته راووت، لکه د باد یې پښه پر ځمکه ونه لګېده، خو زور یې د هر چا په سترګو کې پاتې شو، ده د ژوند تر پایه په خانۍ پسې لاسونه ونه مروړل، یوازې او یوازې یې د یوې ښتینې او د عدالت پر ستنې ولاړه ټولنه یې غوښته، همدا غوښتنه او ارمان یې د ښتیني ژوند بیان دی. هدف یې د یوې انساني ټولنې جوړښت و. شیدا د ژوند تجربې په هنري پایله کې وړاندې کړې، چې له مخې یې دی د یوه استاد مفکر او مخیل شاعر په توګه په ټولنه کې یاد شو. ده په خپل کلام کې هنري او فني ارزښت ساتلی دی.» (ازمون، ۱۴۰۲: ۱۷۸). د هنري پنځګر احساس او ادراکه ددغه دریځونو د پېژندنې په برخه کې مهم رول لوبوي او څومره یې چې کچه لوړېږي، شاعر هومره له هنري محدودیت څخه

وړاندې ځي. د ادراک او مانا اثر ليکوال محمد مصطفی سمون په دې اړه ليکلي دي: «احساس او ادراک له فزيولوژيکي اړخه دوه بېلابېل مراحل لري. يو ټاکلی حسي تحرک دی، چې کولای شي مختلف ادراکونه رامنځته کړي، حسي تحريک او ادراک کولای شي چې په يوه درک موخې ته ورسېږي. ټول فزيولوژيکي اطلاعات ښيي، چې ټاکلی تحرک تل يو فعاليت په حسي کورټکس کې توليدوي، خو واقعيتونه په ډاکه سره ښيي، چې هماغه ټاکلی تحريک ادراک نه رامنځته کوي. که بل ډول ووايو چې يو ټاکلی تحريک کولای شي بېلابېل ادراکونه رامنځته کړي(سمون، ۱۴۰۲: ۳۳). په نړۍ کې د هنر دريځونه محدود دي، ټول له مينې يا عشق، رنځ، بغاوت، هيلو او مبارزې، بشرپالنې او وياړونو سره په تړاو خبرې کوي، ابتذال يا نوښت په دې پورې اړه لري چې تر کومې اندازې پورې د هنرمن پوهه او فلسفه ژوره او پراخه ده، تکرار او تقليد چې د بې هنره او يا بې بنسټه هنرمن تګلاره ده؛ نه يوازې د هنر په برخه کې کوم خوند نه ايجادوي؛ بلکې د کرکې د ايجاد لامل ګرځي.

د ادبي پنځونو يو اصلي محور ژبه ده او ژبه زموږ د ژوند په ټولو اړخونو کې رېښې لري. د ادراک او مانا د ليکوال په اند د ژوند له تحول سره په هر څه کې بدلون روان دی؛ دا ځکه چې بدلون له نوښت او پرمختګ سره نورې لارې هم پرانيزي. اوس دا پلټل کېږي، چې ګڼې ژبه د انساني ژوند له ټولو اړخونو او علومو سره اړيکه لري او که يوازې تر وينا پورې محدوده ده؟ د مطرح شوې پوښتنې په رڼا کې ويلی شو، چې د ژبې په مټ د وينا تر شا هغه پټ مزي سپړل کېږي، چې د همدې ژبپوهنيزو اړيکو له مخې يې له نورو علومو سره لري او دا خبره ورو ورو ثابتېږي هم. همدا ژبني توکي دي، چې موږ له ذهني پلوه له وړو مشاهداتو سره مخ کوي او راته وايي چې سمه مشاهده هغه وي چې تضادونه په کې کم وي، ذهني انځور ته د رسېدو لپاره په عمل اشاره او ژبنيو فعاليتونو کې ښودل کېږي، چې بيا وينا خپلې موخې ته رسوي(سمون، ۱۴۰۲: ۹۶).

ادب څېړونکی استاد محمد اکبر کرګر وايي چې په ادبي هنر کې ژبه د بيان او اظهاراتو وسيله ده، چې له دې لارې د انسان د فرهنګي وجودي شخصيت او فرديت هغه توپيرونه روښانه کېږي، چې تل د ليکوالو او فلاسفه وو له خوا پرې خبرې کېږي. ادبيات د دې مطالعاتو او څېړنو وسيله ده او دا روښانه خبره ده چې ارواپوهنه او ادبيات دواړه د څېړنو له مخې په بشري تعامل کې ښکېل دي، دوی دواړه د د انسان غبرګونونه، د نړۍ په باب پوهه، د بشر خپګانونه، هيلې، غوښتنې، وېره، شخړې او پخلاينې فردي او ټولنيزې انديښنې او د بېلابېلو مفاهيمو ميتودونو او تماسونو او همدارنګه د ليکوال ژوند د خپل عيني پوهاوي، ايديولوژيکي او ارزښتي قضاوتونو او خلاصو دروازو نامعلومې او ناليدونکې نړۍ په توګه څرګندوي.

هنري پنځونې د آزاد ذهنۍ محصول دي او ذهني آزادي د غوره هنري پنځونو د ودې لپاره اساس دی. تړلي ذهنونه نه شي کولی چې د هنر په دنیا کې الوت وکړي او لوستونکي د شاهکاره ادبي اثارو څخه برخمن کړي. استاد اکبر کرگر په دې اند دی، چې پنځونه د ذهني ازادۍ په څېر د رازونو ټولگه ده، اروايوه کولی شي د بهيرونو يا ذهني جريانونو په لړ کې دواړه پربکړې تشريح کړي، خو نه شي کولی هغه څه چې د فلسفي ستونزې په توگه يې مطرح کوي، د هغې لپاره د ژوند لاره پيدا کړي. پنځگر يا نوښتگر انسان يوه داسې پېچلې پوښتنه ده چې کېدای شي هڅه وکړو چې له بېلابېلو لارو ورته ځواب ووايو؛ خو هر وخت نتيجه نه لري(کرگر، ۱۳۹۹: ۶۴).

**هنري پنځونې، روان او تخيل**

کله کله دا خبره مطرح کېږي چې د هنري پنځونې روان او طبيعت تر ډېره پورې پر تخيل او تصور ولاړ دی، حال دا چې د قلموالو مرکزي تکيه په فکر وي او قلم د فکر د بيانولو غوره وسيله ده، د عرب څېړونکي او کره کتونکي محمد مندور په وينا ادبي اثار بايد د بشر روحي يا رواني دردونه تسکين کړي. نوموړي په خپل اثر ادبي کره کتنه اثر کې ليکلي: موږ دا منو چې بشريت متفکرينو او پياوړيو قلموالو ته اړه لري، چې د بېوزليو د حقوقو دفاع وکړي او هغوی له تېري او ناپوهۍ ژغوري، خو انسانيت داسې چاته هم اړه لري، چې د هغوی ژور روحي دردونه تسکين کړي او د ډېرې په څېر کلک ذوقونه نرم او لطيف کړي، چې دا خپله بشريت ته ستر خدمت دی او له دې لارې پر بشري زړونو او شخصيتونو ژورې اغېزې پرې باسي او دا خبره ضروري ده، چې د بشر روحي ناروغيو د هغه د مادي پرمختگونو مخنيوی کړی همدارنگه د ذوق وچ کلکوالی او انجماد نه يوازې ټولنيز ژوند ستونزمن کړی؛ بلکې د ځاني ژوند د فقر او نېستۍ باعث هم دی.

د هنر په باب هنر د هنر لپاره موضوع هم له پخوا نه په هنري بحثونو او پنځونو کې مطرح کېږي او ددې نظريې پلويان د هنر د ټولنيز اړخ يا اغېز سره په نه جوړ جاړي تورن دي؛ خو محمد مندور په دې نظر دی چې هنر د هنر لپاره معنا دا نه ده، چې گني ادب دې موضوع ونه لري، ځکه داسې بايد ونه گڼو، چې يوازې فکر او احساس دوه داسې موضوعگانې دي، چې د ادب لپاره په کارېږي؛ بلکې پر دې سربېره ټول شيان او صورتونه چې د حواسو له لارې ( په تېره بيا چې له بهير نه يې د سترگو له لارې) او همدارنگه څه چې د چاپېريال له طبيعي موادو اخلو دا ټول د ادب لومړني مواد دي او ورته اړتيا موجوده ده (مندور، ۱۳۸۰: ۲۵). عامه يا ولسي او شعري تجربې د هنري پنځونو او د پنځگر د روان لپاره يوه بله داسې وسيله گڼل کېږي چې په رڼا کې يې خپلې پنځونې له خپلو مخاطبانو سره

شریکوي. له شک پرته چې په دې تجربو کې تخیل شامل دی او کله کله د ادبي تصور د محدودیت سبب هم کېږي؛ خو پیاوړی اردو ژبی څېړونکی معید رشیدي وایي چې په دې تجربه کې د پنځگر روح نوې بیداري مومي. دی په خپل مشهور اثر استعاره، تخیل او تخلیق کې لیکي: عامه او شعري تجربې توپیر لري، عامه تجربه د یو څیز په اړه محدود تصور دی، خو شعري تجربه تخیلي تجربه ده او دا د څیزونو په اړه لا محدود تصور یادېږي، دلته بشپړ انساني روح بیدارېږي او محدده تجربه په لا محدوده تجربه بدلېږي. همداسې ادراک ( لومړنی تخیل) د شعور هغه برخه ده، چې هېڅ کوم نوی څیز نه شي رامنځته کولی او نه هم کوم څیز په پورته توگه پېژندلی شي؛ خو ددې برعکس ثانوي تخیل الوت، نامحدود او پنځیز وي، دا ځکه د بیدار او گړندي شعور سره اړیکه لري. خیال د ژوندانه علامه ده؛ نو همدا لامل دی چې د ادبي تخلیق درجه، چې پر ثانوي تخیل ولاړه ده، تر ساینسي پنځونې ډېره لوړه ده، ادراک یوازې معلومات وړاندې کوي، نه د بصیرت او حقیقت ترجماني کوي، نه د واقعیت، حال دا چې ثانوي تخیل د متحرکو او شونو ځانگړنتیاوو لېږدونکی دی او د واقعیت ترجماني کوي(رشیدي،۱۳۹۳: ۳۶). دغه هنري تجربه ددې سبب گرځي چې هنرمن ټولنیز جوړجاړې ته مخه کړي، ځینې هغه ټولنیزې پدیدې ومني چې په شخصي لحاظ ورسره ناجوړ دی؛ خو ځینې هغه چې خلکو ته نا اشنا او نوې دي، د هنري تخلیق په جامه کې په نورو ومني او ټولنیزې یې کړي. د استاد کرگر په اند داسې ښکاري چې هنر په تاریخي او ټولنیز لحاظ ځان جوړجاړې ته ورکړی، له همدې امله هنرمن د دغه پخلاینې یا جوړجاړې د له منځته وړلو لپاره کوښښ کوي.

درولان بارټ په اند دغه کوښښ ځان ته درې بېلابېلې بڼې خپلوي، هنرمن کولی شي چې یوه بل دال ته مخه کړي. که چېرته لیکوال وي نو فلم جوړونکی یا نقاش ورځخه جوړېږي، که نقاش وي، فلم جوړونکی کېږي، د سینما او نقاشۍ مستمره کره کتنه کوي، یا کولی شي چې د لیکنې فکر له سره وباسي یو عالم، یو څېړونکی یا هم کوم روڼ اندی تیوریسن شي، له ټولو ژبنیو نفسانیاتو نه له تش اخلاقي منظر پرته د بل څه په اړه خبرې ونه کړي او بالاخره دا چې کولی شي یوازې په کلي ډول خپل ځان ویجاړونې ته مخه کړي، له لیکنې لاس واخلي، خپل کسب، کار او هیلې له یوې مخې بدلې کړي(بارټ، ۱۳۹۶: ۸۷).

د هنري پنځونو او روان یو بل تر ټولو دقیق محک او محور ښایست دی، که چېرته هنري پنځونې او د پنځگر رواني اړخ ورځخه تش شي؛ نو متني ښکلاوې تر خپل ادبي معراجه نه شي رسېدلی، یا به داسې وي چې په همغه لومړی بڼه د پنځگر په ذهن کې پاتې کېږي، یا هم د وخت په تېرېدو سره

رنګ بدلوي او ورو ورو يې د مخاطب له لوري د ښکلاییز درک کچه هم را لوړېږي، په دې چې ښکلا له خپل پراخ مفهوم سره انفرادي درک ته هم اړتیا لري.

اجمل پسرلی په دې اړه په خپل اثر ښکلا د خوشحال په غزل کې ليکلي دي:« ښکلا که څه هم د نوې فلسفې له مخې انفرادي درک کېږي، خو په خپل ذات کې يو پراخ مفهوم لري، چې د معرفي لپاره يې د ځانګړيو تجربو بيان ضروري دي. د کره کتونکو په باور هنر تجربې شريکوي، چې دغه تجربې د هنرمند او هنر خوښې ارتباط پیاوړی کوي.» (پسرلی، ۱۳۹۷: ۱۵). په ادبي اثارو کې هنري ښکلا په بېلابېلو بڼو را څرګندېږي او اثر ته حيثيت ورکوي، خو استاد کرګر بيا په خپل اثر ادب، هنر او ښايست کې د ښکلا څرګندېدو په دوې لارې را په ګوته کوي او زياتوي: په هنر ښکلا له دوو بېلابېلو لارو ځان را څرګندوي. دا واقعيت دی چې په هنر کې ښکلا بايد په هنر کې د ژوندانه د ښکلا په هستولو کې وپلټو، په دې مهفوم کې د هنر د ښکلا منبع د واقعي نړۍ په ښکلا کې ده، په دې ډول په هنر کې ښکلا د ژوندانه د ښکلا الوتې کاپي نه ده، هنر د واقعي نړۍ د ښکلا پوهېدنه ده. هنر د ښودل شويو پديدو ښکلا جلا کړې او په هغه ټينګار کوي. پر انسان باندې د هغو اغېزو ته شدت ورکوي او دا توان ورکوي چې په خپله په ژوندانه کې د پټې ښکلا او له ښکلا څخه د خوند اخيستلو اړتياوې وپېژني او په ژوره توګه ورباندې وپوهېږي(کرګر، ۱۳۹۹: ۹۷). هنري پنځونې که هر څومره ښکلې او عالي هم وي، بشپړې نه دي، دا ځکه چې هنر د يوه ژوندي موجود په څېر د انسان او ټولنې له ودې سره رنګ او څېره بدلوي، څنګه چې انسان بشپړ نه دی، همداسې هنر هم د بشپړتيا خواته مزل کوي، هنرمن ليکوال يوازې هڅه کوي چې په خپله بشپړه پنځونه او ځواک سره د هغو د بشپړتيا هڅه وکړي، چې همدا هڅه يې د غوره ادبي پنځونو روحيه پالي.

بله دا چې د پنځونې ځواک رامنځ ته کېدل او هستېدل داسې يو جريان دی لکه کرکيله چې که چېرې دا ځواکونه په خپل وجود کې په غير عقلاني توګه په خپل روح کې وبولو او په غير عقلاني هنر کې انعکاس وکړي؛ نو عقلاني هڅې يې بې مانا بولي. که دا ټول جريان د عليت له زاويې بيان شي؛ نو ويلی شو چې پنځيز واقعيت په پوره توګه د ساده جريان معکوس اړخ دی. دا د هر وخت له پاره د انسان پېژندنې له ځواک نه بهر دی يوازې د رامنځ ته کېدو ستاينه يې کولی شو.

په هنري دنيا کې يوه بهرنۍ پېښه د هنرمن د پارېدنې سبب شوې، د هغه نفسيات يې د يوې هنرې ټوټې د پنځونې لپاره چمتو کړي دي. په همدې اساس فرويډ د هنري پارچو ايجاد د جنسي غرايزو د وروسته پاتې والي غبرګون بولي، دده پلويان د هنري الهاماتو سرچينه د هنرمن په جنسي ژوند کې

پلټي، خو نور فیلسوفان ورسره مخالف دي او دا نظریه له اغلاقه(پېچلتیا) ډکه بولي، بلکې وايي دا سمه ده چې د جنسي غریزو محرومیتونه شدید عواطف او احساسات رامنځته کوي؛ خو د هنرمن‌کېدلو لپاره بسنه نه‌کوي او دا هنري موضوع نه ده.

ددغه څېړنیزې مقالې د موندنو برخه کې باید ووایم چې له هنري پنځونو څخه تر ډېره پورې موخه ادبیات دي، ادبیات که په فلسفه یا فلسفه په ادبیاتو کې وکتل شي، په ټولو کې دا خبره څرګنده ده چې دوه اړخیزه اړیکه یې په هر صورت کې د ارواپوهنې پر متې ټینګه ده او اروپاوهنه له ادبیاتو سره تر بلې هرې پوهنې ژورې اړیکه لري، ځکه چې تخلیقي ادبیات د پنځګر له رواني دنیا سره تړلي دي، له عواطفو او احساس سره سروکار لري، د انساني فردیت او د هغه د پنځګرې دنیا تفسیر وړاندې کولو وړتیا لري. د انساني فعالیت په ټولو ډګرونو؛ لکه تاریخ، فلسفه، ټولنپوهنه، اروپاوهنه او نورو برخو کې د ادبیاتو د هنر فعالیت هم شته دی. هره ادبي پنځونه او تخلیق د انسان د شعور او لا شعور سره ژوره رواني اړیکه لري، د ګڼو ادبي اثارو لومړی رېښې یې د انسان په لاشعور کې را ټوکېږي، ځینې اړخونه یې په شعور تکیه کوي؛ خو دواړه بیا د بیان لپاره ځانګړې ژبې ته اړ دي.
لکه څنګه چې اروپوه فروید لومړی ځل د ادبیاتو د اروپوهنې په لړ کې دا خبره څرګنده کړه چې خبري شعور ژبه لري او په ژبه کې معنی ګانې او کلمات له جوړښت سره سرو کار لري، چې هغه زموږ ورځنۍ ژبه ده، په همدې ډول لا شعور یا ناخبري شعور هم د ژبې لرونکی دی چې له شعور سره یې ژبه جلا ده. د فروید په باور د ناخبري شعور ژبه انځوریزه وي، په استعارو، سېمبولونو او رمزونو کې پټه وي؛ په دې صورت کې که څوك د رمزونو او رازونو په مانا پوه نه شي او سېمبولونو سره سرو کار ونه لري؛ نو ګرانه ده چې په دغه ژبه دې وپوهېږي، ددې کار لپاره د هېرمونوتېزم (د متن د تفسیر فن) ته اړتیا ده، یاني متن باید تفسیر او تاویل شي، ګې لرغوني دیني متون په داسې رمزونو کښل شوي چې ظاهري او باطني ماناګانې ورڅخه اخیستل کېږي.

**پایېزه**

د پښتو ادب په څولی کې د ادبي اثارو د کره کتنې او سپړنې په چاره کې د اثارو او پنځګر رواني اړخ ته ډېره پاملرنه نه کېږي او اکثره وخت کره کتونکي عیني شرایط په پام کې نیسي، حال دا چې د فروید د اروپوهنیزو نظریاتو په رڼا کې یو ادبي اثر په هېڅ صورت هم د پنځګر له رواني مخینې او حالت څخه جلا نه دی. په مقاله کې دغه مشخصو پوښتنو ته د څوب موندنې هڅه وشوه، چې د پنځګر روان په هنري اثر کې څومره څرګندېږي؟ د هنري پنځونو سرچینې څنګه موندلی شو؟ له بېلابېلو پوهنو سره د اړیکو پر مهال هنر کومه بڼه خپلوي؟ شاعر او لیکوال په کوم حالت کې ښه تخلیق کولی

شي؟ او ایا دا چې د هنرمن جنسي تمایلات(ښځینه او نارینه لیدلوری) په هنري پنځونه کې رول لري کنه؟ د ادبي اثارو د تحلیل او کره کتنې پر مهال دې ټکي ته پام کول موږ تر اصلي معنا موندنې پورې رسولی شي، ځکه خو د پنځونې او هنر اړیکه موندل، په هنري پنځونه کې د پنځګر د روان او ټولنیز موقف مشخصول او په ادبي اثارو کې د هنر انګیزه او تحلیلي زاویې سپړل زما موخې دي.

**پایله**

پورتنیو څرګندونو ته په پام سره د پایلې په توګه ویلی شو چې په ادبي پنځونو کې تر ټولو وړاندې د پنځګر روان او پنځځواک کلیدي ځای لري او د جلا زاویو په ټاکنه او تشخیص کې کارنده تمامېږي. په همدې ډول طبیعت داسې یو عنصر دی چې د ادبي اثارو پر منځپانګیزه بڼه اغېز لري، دا چې ادبي یا هنري پنځونې هر وخت ممکنې نه دي، یو اغېز په کې د طبیعت دی، په همدې ډول د ادبي اثر ژبه د پنځونو محور جوړوي، ددې تر څنګ عامه او هنري تجربې له ټولنې یا د هنري اثارو له مخاطب سره د پنځګر د چلند په ټاکنه کې تګلوری څرګندوي او پر دې ټولو سربېره د ښایست معیارونه او د هنر ارواپوهنه پنځګر پر دې برلاسی کوي چې خپل هنري اثر له بېلابېلو زاویو څخه د محبوبیت کچې ته لوړ کړي. همداسې د پنځګر فردي تمایلات هم په هېڅ صورت د پټېدو وړ نه دي او په ادبي اثر کې له یوې زاویې ځان څرګندوي، خو څومره چې هنرمن ټولنیز کېږي، د فردي تمایلاتو اندازه هم جامعیت مومي او ادبي اثارو ته ټولنیز موقف وربښي.

**ماخذونه**


ازمون، لال پاچا. (۱۴۰۲). د تخیل سمندر. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

بارت، رولان. (۱۳۹۶). لذت متن. ژباړن: پیام یزدانجو. تهران: نشر مرکز.

پسرلی، اجمل. (۱۳۹۷). ښکلا د خوشال په غزل کې. کابل: د افغانستان علومو اکاډمي – ادبیاتو پوهنځی.

رشیدي، معید. (۱۳۹۳). استعاره، تخیل او تخلیق. ژباړن: جمیل ممتاز. ننګرهار: مازدیګر خپرندویه ټولنه.

سمون، محمد مصطفی. (۱۴۰۲). ادراک او مانا. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

کرګر، محمد اکبر. (۱۳۹۹). هنر، ښایست او ادب. ننګرهار: هاشمي خپرندویه ټولنه.

مندور، محمد. (۱۳۸۰). ادبي کره کتنه. ژباړن: اجرالدین اقبال. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.